


Ketabton.com

# دسولې او تفاهم
# دلیارې مبلغ
# دوکتورمولوی محمد
# سعید« سعیدافغانی»

لیکوال **پروفیسورعبدالله بختانی خدمتگار**

**کا بل ده۱۳۶ه ش دحوت ۷ مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## دسولې او تفاهم دلیارې مبلغ

## دوکتورمولوی محمد سعید« سعیدافغانی»

الحمد لله رب العالمین ،و العا قبهّ للمتقین ، والصلوهّ والسلام علی خیر المرسلین .سیدنا محمد و علی آله و اصحابه و اتباعه اجمعین.

**اما ابعد:**

دوکتور سعید افغانی زموږ دهیواد مشهور عالم، لیکوال،مولف،استاد اواجتماعی شخصیت و چه تل یی دسولی ، ترقی، وروری، او تفاهم لپاره مبارزه کوله. ددی نومیالی پوه دروند نوم هم په وطن کښی او هم دنړی په نورو هیوادونو کښی خپور او مشهور دی. دده دعلمی او اجتماعی شخصیت په درناوی ، دمړینی د دوهم تلین په موقع کښی یی لنده پیژندنه وړاندی کوو. په دی هیله چه د فرصت په مساعدت، یووخت وکولی شوو چه مفصله بیوګرافی یی ولیکلی شو.

## زیږیدنه

## کورنی او لومړنی زده کړې

دلغمان دعمر زیو دخیر آباد په کلی کښی ، یو دینی عالم او مشهور مدرس مولوی عبدالمجید ساپی ژوند کاوه چه دخپل وخت له مشهور و مدرسانو څخه وه او د ډیر و دینی عالمانو استادوه.

ددوی په کاله کښی په ۱۳۰۰ه ش کال یو ماشوم و زیږید او « محمد سعید » و نومل شو.

دی ماشوم د خپل وړوکتوب په دوره کښی دخپل کلی له ماشومانو سره دخیر آباد په خاوره خاپوړی کولی .

پلاریی لوی مدرس او د تیګرو دښارد جامع جومات خطیب او امام وه.

دهغه وخت له رسم او رواج سره سم مدرسانو به ددینی علومو طالبانو ته در سونه ویل . د درسونو نصاب معلوم وه.

دتفسیر ،حدیث ، فقهی، د حدیث اصول، دفقهی اصول ،صرف، نحو ،بدیع،بیان،معانی ، تجوید ، منطق او فلسفی باندی شامل وه.

ځینو متبحر و عالمانو به ددغو ټولو موضوع ګانو تدریس کاوه. ځینی به په یوه ځانګه کښی مشغول وه چه دهغه وخت په اصطلاح د هماغه ځانګی عالم یا ملا بلل کیده ، لکه د فقهی ملا ،د حدیث ،یا تفسیر یا صرف ،یا نحوه ، یا منطق ....ملا او داسی نور .

دخط ، حساب او نظم (ادبیات) لپاره بیل درسونه وه چه استادان یی (ناظمان)بلل کیدل .دوی سره به دکلیو هلکانو در سونه ویل او متخصصو او متبحر و عالمانو سره ،ددینی علمونو طالبانو، چه د هیواد له ګوټ ګوټ نه راتلل او د هغه کلی او شاوخوا کلیودخلکو په مرسته ، خیراتونو او صدقوژوند کاوه.

محمد سعید،دخپل پلار د درس په حلقه کښی خپلی لومړنی زده کړی و کړی. ددینی

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوع ګانو ، او دصرف ، نحو، منطق او معانی مبادی یی هلته و لوستل او هملته بنایسته ښه ملا شو.

## دعربی دارالعلوم شاګرد:

وروسته بیا محمد سعید د کابل د عربی دارالعلوم په پنځم ټولګی کښی (دشرح ملا جامی)او نورو کتابونو تر از موینی وروسته شامل او په ۱۳۲۵ه ش کال ددغی مدرسی له دولسم ټولګی نه فارغ شو،په دی مدرسه کښی د پاس ذکر شویو پوهنو مهم او ضروری کتابونه ، په منظم ډول ، د درسی پروګرام حاضری ، امتحان او د رسمی مدرسی د نورو ضابطو لاندی لوستل کیدل .

د افغانستان دمعارف (پوهنی) د وزارت له خوا ، دغه دوره (بکلوریا) ګڼل کیدله او دنورو لیسو (دو لس ټولګیزو ښوونځیو) غوندی یی رسمی حیثیت او امتیاز درلود.

مګر ډیره عجیبه خبره ده چه ددی مدرسی او د افغانستان د نورومشابهو مدرسو ، لکه :د ننګرهار نجم المدارس ، د میمنی ، مزارشریف ،هرات او نورو ځینو ولایاتونو دمدرسو بری لیک (شهادتنامه ) په مصر کښی ، خصوصاً د «الازهر» د پوهنتون له خوا ، د لیسانس د درجی دیپلوم ګڼل کیده .

په دی بری لیک کښی د ټولو هغو کتابونو نومونه درجیدل چه هغه به په دی مدرسه کښی لوستل کیدل.هغه ربښتیا هم د تحصیل یو لوړ او قوی معیاروچه باید په خپل وطن کښی هم ، لږ تر لږ ه لیسانس ګڼل شوی وای.

هو! ددغو مدرسو فارغانو ته، له عنعنی سره سم، دمولوی توب پګړی تړل کیده او په رسمی او غیر رسمی چارو کی دهغو له نامه سره د«مولوی» علمی لقب لیکل کیده او ویل کیده.

## دکارپیل :

دکارپیل کله چه دمولوی سعید په سر،دمولوی توب پګړی و تړل شوه سمدستی د کابل د عربی دارالعلوم د استاد په حیث وټاکل شو. بیا د ننګرهار د نجم المدارس د مدیر (سر مدرس) په حیث مقرر شو. یو څه مودی د پوهنی (اوس:ښوونی او روزنی) د وزارت دمسلکی تدریساتو غړی شو چه ددینی مدرسو او نورو ښوونځیو او لیسو ددینی درسی مضمونونو په چارو بوخت و. بیا بیرته دنجم المدارس مدیر او وروسته دحبیبیی د لیسی ښوونکی شو.

## لیکوال سعیدافغانی

دی لادعربی دارالعلوم شاګرد و چه قلم یی په لاس واخیست او ورځپاڼو او جریدو ته یی مقالی لیکلی . په دغه وخت کښی یی ځانته «افغانی » تخلص ټاکلی و.

په دی صورت نوم یی «سعید افغانی » او د مدرسی تر فراغت وروسته «مولوی سعید افغانی » شو.

ددی وخت لیکنی دده لومړنی او دشاکردی د وخت لیکنی دی چه د اجتماعی ،اخلاقی او دینی موضوع ګانو په کښی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویښ زلمو په لار

د سعید افغانی د مولوی کیدو په کال، د۱۳۲۵ ه ش ددلو په ۲۵ مه په ننګرهار کښی دویښ زلمیانو ډله جوړه شوه اوڅو چه کال پوره کیده په ټول هیواد کښی یی ملګری پیدا کړل ،دا یو سیاسی ،اجتماعی او ادبی حرکت و چه له ظلم ، استبداد ، رشوت خوری ، سود خوری ، مزخرفو دودونو اورواجونو سره یی مبارزه کوله او دعلم او پوهنی د تعلیم او پراختیا او زمونږ د ګران تاریخی هیواد د ټو لو اوسیدونکو ترمنځ یی د ملی وحدت په ټینګښت باندی ټینګار کاوه. دی حرکت په متشکل او منظم ډول تر ۱۳۳۱ه ش کاله پوری دوام موندلی دی .
داخلی او خارجی ارتجاعی محافلو اوعناصرو په دی جریان سره مخالفت کاوه او دهغه د غړود بدنامولو او بی لیاری کولو لپاره یی هڅه کوله ،د وخت استبدادی حکومت د چل زور او نورو دسیسو په خوا کښی دا کوښښ هم کاوه چه په هیواد کښی ددینی پوهو طالبان ، عالمان او روحانیون د ویښ زلمیانو په غاره واچوی . دوی سره ونښلوی او پخپله د خیر په غونډی کښینی او په دی هیواد کښی پر اوسیدونکو خلق الله باندی استبدادی حکومت و چلوی ځینو په نامه روحانی عناصرو څه ناڅه دا دنده ترسره کړه. مګر په هیواد کښی زیات شمیر و طنپار ملایان ، مولویان او پیران دویښ زلمیانو په خوا کښی ولاړ وو. دبیلی په ډول:
دکامی مرحوم سید سرور قاری ، د قرآن کریم حافظ رسیدلی ملا ، لیکوال او شاعر ، اولسی، اجتماعی ، او روحانی شخصیت چه څو ځله دکامی د ولسوالی د شریفوخلکو له خوا، ننګرهار د ولایت د مشوری د وکیل په توګه انتخاب شوی وه اود ننګرهار د دارالحفاظ موسس، مدیر او استادو ، همدارنګه د کندهار مشهور اجتماعی او روحانی شخصیت محمد یوسف مجددی او ستر دینی عالم ،د مزارشریف د اسدیه مدرسی ددار العلوم مدیر او استاد، لیکوال او مترجم مرحوم مولوی عبیدالله صافی،مشهور دینی عالم مرشد ، علمی ، روحانی ، اولسی او اجتماعی شخصیت ، د تګاو اخوند زاده مرحوم مولوی حمیدالله صاحب په وینا او عمل کښی دویښ زلمیانو حمایت او ننګه کړی ده.
یا مشهور دینی عالم دسلطنتی استبداد ضد،علمی ،سیاسی او اجتماعی شخصیت، مولوی قاضی محمد بهرام د کندهار چه دهغوی خبرو، صحبتونو او مشورو دویښ زلمیانو د حرکت په لاره کښی ستر اغیزه درلود.
زه اوس هم دغونو موړه ښاغلو و طنپالودینی عالمانو او روحا نیانو ته داحترام سر ټیټوم او دهغو په درنو نومونو ویاړم.
د کابل د عربی دار العلوم، د ننګرهار د نجم المدارس ، د مزار شریف د اسدیه مدرسی او نورو دینی مدرسو یو شمیر نور زلمی شاګردان هم ویښ زلمیان وه چه پدی نهضت کی ئی جوش او خروش پیدا کړی وه.
د ویښ زلمیانو د فعالیت په موده ،د مولوی محمد سعید افغانی ،د کار ، استادی اوالیکوالی لومړنی و ختونه وو.که څه هم دی د ډلی رسمی ملګری نه و، مګر مونږ چه ګورو دده هغه وخت لیکنی دو یښ زلمیانو د مرام د محتوا له روحیبی نه ډک وو. په هماغه سمت یی قدم ایښی، قلم چلولی او د ضرورت په وخت یی عملاً مونږ سره مرسته کړی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په نجم المدارس کښي ادب پالنه

مولوی محمد سعید افغانی ،لس کاله د نجم المدارس د مدرسی مدیریت کړی اود ننگرهاردادبی شاعرانه ویښ چاپیر یال د هډی په تاریخی کلی کښی اوسیدلی دی. چیرته چه دهیواد د مشهور عالم او دانگریزی استعمار ضد ورحانی لار ښوداو مرشد مولانا نجم الدین اخونزاده(دهډی صاحب) مزار دی.

مولوی سعید افغانی د مدرسی شاگردان لیکوالی، شعر او ادب ته تشویقول او هغوی روزل. دده په توجه او پالنه به د ننگرهار د ورځپانی او مجلی پانی د نجم المدارس د شاگرد دانو او استادانو په مقالواو شعرونوډ کیدلی،د مدرسی لپاره، په پښتو ژبه، یوه اوه نیزه قلمی جریده هم چلوله چه مسؤلیت یی دده په غاره و.

ددی جریدی لومړی گڼه د۱۳۳۷ ه ش کال د میزان په (۳۰) مه خپره شوی ده. دا گڼه او ځینی نوری گڼی یی هم دا اوس زمونږ په لاس کښی دی او د قلمی جریدو ډیره ښه بیلکه ده.

په نجم المدارس کښی دمولوی سعید افغانی د مدیریت وخت هغو کلونو پوری ارتباط لری چه د ویښ زالمیانو ډله خوری شوی وه،مگرد هغوی مرام لا د لیکوالی په ډگر کښی او د لیکوالو په ذهن او ضمیر باندی نفوذ او تسلط درلوده.د پښتنو او بلوڅو ورونو دملی آزادی د سرنوشت د ټاکلو موضوع د ورځی موضوع وه.د ننگرهار په ادبی چاپیریال،د ننگرهار په ورځپانه او مجله کښی او د نجم المدارس په مدرسه کښی دغو خبرو څرگنده ځای درلود.دمولوی سعید افغانی په برکت په نوموړی مدرسه کښی د لیکوالی کار ښه رونق وموند. په دغو وختونو کښی زه هم د ننگرهار مجلی مدیر او د ورځپانی مرستیال وم او په نجم المدارس کښی می د ادب، شاعری او لیکوالی له انکشاف سره مرسته کوله.

زما ښه په یاد دی چه په ملایانو کښی چه به چا خط زده کاوه، نود ځینو طالبانو او ملایانو له خوا به د «مهمل» په نامه یا دیده او «دعلم طالب» به نه بلل کیده.

ددغسی کسانو په باب به تل دوی ویل: «ورک یی کړه،مهمل سړی دی،خط یادوی....»دا دیردو، په تیره بیا د انگریزی استعمار او امپریالیزم د پټو سازما نونو دشفاهی زهر ښندلو، بد تبلیغ او غلط پروپاگند تاثیر و چه زمونږ مذهبی دینی عالمان به یی له خط او کتابت او په دی وسیله ملی ادب او اولسی سیاست نه لیری ساتل. همدارنگه د خط او لیکوالی نه زده کول، ددی سبب کیدل چه ددینی عالمانو فعالیت، کار او مشغولیت یوازی په تدریس، موعظو او امامت او کله لا په دهم او دم چف او کف منحصر شی . د لیکنی او تالیف مهم او اساسی علمی کار تری پا ته شی او دینی پوهنی زیات او منظم پر مخ تگ او انکشاف و نه کړی.

په دغسی ټولنو اووختونو کښی د مولوی سعید افغانی په شان فاضلو پو ها نود قدر وړ ملی، اجتماعی او فرهنگی خدمتونه سرته رسولی دی. نوموړی به هڅه کوله چه د مدرسی د طالبانو ترمنځ دشعر او ادب کار او سر گرمی زیاته شی لیکنی وشی . اودمدرسی په جریده او دننگرهارپه مجله اورځ پانه کی خپری شی .کنفراسونه جوړشی .... په خپله ده به هم دننگرها رورځپانی او مجلی ته ډیری ښی مقالی لیکلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغو مقالوکې « ننګرهار ته يوګتنه » ديادولو وړ ده .بله مقاله يې دلغمان دتاريخي پېښو او اوسنې وضعې په باره کې ده چه ما هم ورباندې تبصره ليکلې وه .
همدارنګه دننګرهار ددينې عالمانودپيژندنې په لړکښې دده يوه په زړه پورې تحقيقتي مقاله خپره شوې وه .
پدې مقاله کښې دهغه وخت دننګرهار دولايت (اوسني ننګرهار کنړ او لغمان ولايتونو ) ددينې عالمانومعرفي شوې دی .

## اخلاق

کله چه مولوی سعيد افغانی د حبيبيې د ليسې ښوونکي و، دلته يې هم د « **اخلاق**» په نامه د نوموړی ليسې لپاره اوه نيزه قلمي جريده ليکله. هغه به د « النجم » او «اخلاق» د جريدو زياتره مضمونونه ده پخپله ليکل او نوری ليکنی به يې هم له نظره تيريدلی.
که مونږ ددغو دواړو جريدو نومونو ته ځير شوو، او له هغو نه هم دهغوی د مسؤل مدير او موسس د نظری دقت څرګند يږی.
په «**النجم**» کښی د هډې د اخوندزاده صاحب مولانا نجم الدين د نامه او شخصيت ياد تازه کيده او په «**اخلاق**» کښی، د کابل ښار په چاپيريال د ليسی د زده کوونکو ځوانانو اخلاقی روزنی او پالنی ته د مولوی صاحب توجه اوعنايت ثابتيږی.

## زده کړه، په مصر کښي کار او ليکني

دقرآن شريف ارشاد دی: « **فلولا نفر من کل فرقة منهم طائفة ليتفقهوا في الدين** » يعنی : (نو ولی نه ځی (په سفر) ستاسو له هری فرقی نه يوه ډله چه په دين کښی زده کړه و کړی) د اسلام د پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم مبارک حديث دی چه: «طالب العلم فريضة على کل مسلم و مسلمة» يعنی : (د علم طلب فرض دی پر هر مسلمان او مسلمانی باندی) همدا رنګه مبارک حديث دی چه « ا طلبو و لو کان بالصين» يعنی (دعلم طلب و کړی که څه هم په چين کښی وی) يعنی ستاسو د او سيدو له ځايه په ډير ليری ځای کښی وی، نو ځکه زمونږ دګران هيواد ددينی علومو د طالبا نو او عالمانو په ټولنه کښی دا خبره را يجه او مشهوره ده چه علم په کور کښی نه زده کيږی او دعلم طالب بايد دعلم د طلب لپاره سفر و کړی.
دهمدی سنت،دود او عنعنی له مخه که سعيد افغانی دځوانی په لومړيو کلنو کی له لغمانه تر کابله او دخير آباد له مدرسی نه تر عربی دارلعلومه پوری په هيواد کښی دننه سفر کړی وه. دا ځل يی دليری و هيوادونو د سفر موزی په پښو کړی.
د «مولوی» په علمی درجه يی بسياونه کړه په ( ۱۳۴۲ه ش ) کال مصر ته ولاړ تر ( ۱۳۴۷ ه ش ) کاله پوری په (جامعة الازهر) کښی د فلسفی او الهياتو په زده کړه بوخت و. له دغی جامعی « پوهنتون» څخه دوکتورا واخسته.
مطالعات يی پراخ او عربی ژبه يی لاقوی شوه. د دوکتورا تيزس يی په عربی ژبه دخواجه عبدالله انصاری په باره کښی ليکلی دی. دا يو کتاب دی چه (شيخ الاسلام عبدالله الانصاری الهروی) نوميږی او په (۳۶۰) مخونو په ۱۹۶۸ کال په قاهره کښی چاپ شوی دی. په دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب له (۵۱) عربی او فارسی ماخذونو نه استفاده شوی ده او زموږ د ګران هیواد د مشهور ستر صوفی خواجه عبدالله انصاری په ژوندانه، لیکنو او نظریو باندی علمی څیړنه او ښودنه ده.

**سید افغانی** د مصر داوسیدو په موده کښی د نابغة الشرق سید جمال الدین (افغانی) په نامه، په عربی ژبه بل کتاب لیکلی دی چه په هغه کښی یی د سید جمال الدین افغان د ژوندانه، ملیت، زمانی،سفرونواو د هغه په علمی، سیاسی او ژورنالیستی فعالیتونو رڼا اچولی ده. دا کتاب په ۱۹۶۷ م کال په قاهره کی چاپ شوی دی. کله چه په ۱۳۵۵ ه ش کال په کابل کښی د سید جمال الدین افغان اتیایم تلین د یو علمی بین المللی سیمینار په ترڅ کښی نمائل کیده، ماله دوکتور سعید افغانی نه هیله و کړه چه نوموړی کتاب په پښتو و لیکی. هغوی زماهیله و منله او په هماغه موقع «د شرق نابغه- سید جمال الدین افغانی» په پښتو ژبه چاپ شو.همدارنګه ده په مصر کښی په عربی ژبه یوبل کتاب هم لیکلی دی چه « افغانستان ، تار یخاو حضارتا وکفاحآ )یعنی (افغانستان – دتاریخ .مبارزو اومدنیت له مخه ) نومیږی لانه دی چاپ شوی اومتن یی موجوددی .

**مولوی سعید افغانی** په مصر کښی داوسیدو په وخت پنځه کاله دقاهر ی درادیو د پښتو پروګرام نطاق او دنطاقانومشر (کبیر الموذعین ) ؤ. په دی وظیفه کښی یی دافغانستان د ادب فرهنګ او خلکوپه باره کښی ډیری مقالی لیکلی اوخپری کړی دی په دی ډول په مصر کښی دنو موړی دمسافرت کلونه په زده کړه مطالعه لیکوالی څیړنه تالیف او دافغانستان دفرهنګ تاریخ او فرهنګی شخصیتونو په معرفی کولو تیر شو .

**(مولوی ) ولاړ او (دوکتور ) ستون شو . نو ځکه دپښتو ټولنی (اکادمی ) په نشراتی اورګان (کابل ) مجلی کښی د (دوکتورمولوی )ترعنوان لاندی یی لنډه پیژند ګلوی خپره شوه دوکتور مولوی دمصر دتګ نه دمخه او وروسته .دکابل مجلی یوتکړه قلمی همکار وچه ډیری اجتماعی مقالی یی ددی مجلی په پاڼو کښی خپری شوی اوخوندی دی**

## دژوند بله مرحله

په هغو کلونو کښی چه دوکتور مولوی سعید افغانی .په مصر کښی وه اوترهغه وروسته وخت .په افغانستان کښی دملی دموکراتیک نهضت دجوش وخروش کلونه وو .
د افغانستان دخلکو دموکراتیک حزب تاسیس شوی او فعال شوی و .ځینو نورو ناسیولستی او یا په مذهبی نامه ګروپونو او ډلو هم فعالیت کاوه.
فیودالی سلطنت به هڅه کوله چه دخلکو دموکراتیک نهضت وچقوی .له شاهی دربار‌ه هم په نامه سیاسی حزبونه او ګروپونه جوړیدل چه دخلکو دموکراتیک مقاومت په مقابل کښی یی ځینی ترجوړ ویدو دمخه ړنګیدل او ځینی یی ترړ نګیدو دمخه جوړ یدل.
کله چه دوکتور سعید افغانی هیواد ته راغی . نودلته داصلی مصنوعی او تصنعی سیاسی ډلویودرب وه.اخبارونه چاپیدل .مظاهری او میتینګونه کیدل زنده باد اومرده باد ناری وهل کیدلی ...سلطنت دټولو ځارنه کوله .هڅه به یی کوله چه او به خړی کړی اوماهیان ونیسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا اختلاف واچوی او حکومت وکړی . په پټه اوښکاره به یی دارتجاعی گروپونو ملاتړ کاوه
دوکتور سعید افغانی ، دیورسیدلی پاخه تعلیم یافته په حیث ، دروښان په نامه عالی
دارالمعلمین کښی دتاریخ د استاد په توگه مقرر شو . په دی وظیفه کښی یی وکولی شوو چه
دهیواد په تاریخ کښی خپله مطالعه نوره هم پراخه او ژوره کړه .دشپږسوو مخونو په
شاوخوا کښی یی خپل یاد ښتو نه راټول کړی او (دافغانستان تاریخ ) په نامه چاپ ته تیار
کړی دی .وروسته دپولی تخنیک استاد او هلته یی دهیواد په سیاسی فعالیتو نو کښی له غور
او مطالعی وروسته ،دوکتور سعید افغانی د کابل پوهنتون داستادانو او شاگردانو
ددموکراتیکو هلو ځلو پر خواودرید .دهمدی لامله نومړی یوځل دکابل پولی تخنیک
داستادانو داستازی په توگه ،دکابل پوهنتون داستاذانو داتحادیی غړی شو اوبل ځل ددغی
اتحادیی دعالی شوراپه مرستیالی انتخاب شو اوپه میرانه به یی داستاذانو او شاگردانو او بالو
سیله دهیوادد خلکو د دموکراتیکو حقونو او غوښتنو دفاع کوله.
په دی ډول دوکتور سعید افغانی په دی مرحله کښی هم دیو عالم ،استاد او مولف په توگه
دتدریس تالیف اولیکنو کار کاوه اوهم دیوه بادر ده بااحساسه وطنپال په ډول دملی
دموکراتیک نهضت په کټه دپوهنتون په سیاسی او صنفی فعالیتو نو کښی مثبت رول لوباوه .
دسلطنت دسقوط نه وروسته دثور تر انقلابه پوری دوکتور سعید افغانی ، په ستره محکمه
کښی په قضایی او علمی چارو او مطالعاتو بوخت و.
په همدی کلونو کښی ،دوهم ځل دحج لپاره دخدای کورته ولاړ . هغه دلومړی ځل لپاره دحج
فریضه ، په هډه کښی داوسیدو په وخت ،په ځای کړی وه .

## ترانقلاب وروسته ملی او بین المللی فعالیتونه

دثوردملی دموکراتیک انقلاب په بریالیتوب،ددوکتور سعید افغانی ،دنوی ژوند نوی دوره پیل
شوه . دانقلاب په لومړی کال دتمیز دعالی محکمی درئیس په توگه وټاکل شو . دانقلاب په
دریم کال ۱۳۵۹ ه ش کښی داسلامی شئونو ریاست جوړ او دوکتور سعید افغانی دهغه
دلومړنی رئیس په حیث مقرر شو . ورسره په ۱۳۶۰ ه ش کال دا . د . ج دانقلاب
شوراغړی اوپه همدغه کال د پلار وطنی ملی جبهی له جوړ ویدو سره سم دنو موړی جبهی
مرستیال هم شو .
دوکتور سعید افغانی په همدغه کال زموږدهیواد ددینی عالمانو او روحانیانو په نمایند گی ،
دادیانو په هغه مقدماتی کنفرانس کښی برخه واخستله چه داتومی اوناتیرو جنی وسلو
داستعمال دمخنیوی لپاره جوړ شوی وه.
دی ددغه کنفرانس دعمومی غونډی په رئیسه هیئت کښی شامل او دوه ځله نوریی هم په
جلسو کښی برخه واخستله په همدغه کال کښی دا .د.ج په اقتصادی هیئت کښی لیبیا ایټالیا
اوهند ته هم ولاړ . په دی سفرونو کښی یی دهغو هیواد ونو دمذهبی مرکز ونو له استازو
دینی عالمانوسره لیدنی کتنی وکړی .
دوکتور سعید افغانی په ۱۳۶۱ ه ش کال داتومی او ناتیروجنی وسلو داستعمال دمخنیوی
لپاره د ادیانو په عمومی کنفرانس کښی برخه واخستله او په همدغه کال کښی یی دسولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره دبوداییانو په کنفرانس کښی چه په او لانبا تور کښی جوړ شوی و ګډون وکړ . ده له نړیوالی سولی او سراسری ملی روغی جوړی سره دزړه له کومی علاقه درلودله . دهمدی لامله یی په همدی کلونو کښی د « خطر جنګ هستوی » او « صلح از دید ګاه اسلام » ترعنوان لاندی کتابونه لیکلی اوچاپ کړی دی .دسولی په لاره کښی دخدمتونو لامله ، دوکتور سعید افغانی « ابن سینا » په نامه بین المللی جایزه وګټله . دهغه وروستی رسمی وظیفه د افغانستان دموکراتیک جمهوریت دعالمانو او روحانیو نو دعالی شورا د ریاست مقام وه . هو دی دنو موړی نوی تاسیس شوی شورا لومړنی رئیس وه.

## شعر او ادب:

دوکتور سعید افغانی له شعر او ادب سره ډیره مینه او علاقه لرله.په نجم المدارس کښی یی د شعر او ادب لپاره کار کړی دی.په ساده،روانه،عام مفهوم او حوږ والفاظو یی لیکنی کړی دی.دا دلیکنی یوښه معیاردی.لوستونکی پری ښه پوهیږی او ډیره استفاده تری کوی.
نوموړی د ادبی نثر یو شمیر پارچی هم لیکلی دی.په هغو کښی یی اجتماعی موضوع ګانی د ادبی نثر په شکل په انتقادی لهجه ځای کړی دی.د نوموړی دغه ډول پارچی ماد «هیواد» په ورځپاڼه کښی خپری کړی دی. د شعر په باره کښی به زه له ده سره خپل یوپخو انی صحبت رانقل کړم. «....مونږ دغه خاطری یا دولی.د« شعر» خبره منځ ته راغله.مولوی صاحب موسکی شو.را ته یی وویل:ستا دهغه وخت دیوغزل کسر می تراوسه یاد دی چه تاویلی دی:

**د مینی په جواری کښی بختانی نه یی زړه و یوړ**
**هستی چه یی له ویښ زلمی ګټله داویده وه.**

دا غزل زما ډیر خوښ شوی او دهغه په پیروی ما هم یو شعر ویلی دی....شعر زما ډیر خو ښیږی زه هم له شعر ویلو سره علاقه لرم.په خپله می کله کله اشعار ویلی دی....» دا له نن نه دشپږویشت اوه ویشت کالو دمخه خبری او خاطری دی.
زه نه پوهیږم چه اوس ددهغه شعر یا نور شعرونه به چیرته وی؟ خو دومره پوهیږم چه دده په اجتماعی، دینی او سیاسی لیکنو کښی ادبی خوږ والی او فصاحت شته او دا دده علاقه له ادب او معیاری ژبی سره ښیی.

## لیکنی:

دوکتور مولوی سعید افغانی،د خپلی لیکوالی په څلویښت کلنه دوره کښی،په پښتو،دری او عربی ژبو ګڼ شمیر مقالی لیکلی دی.پخپله ده،دخپلو مقالو شمیر له یونیم زرونه زیات تخمین کړی دی.دا به سم وی.دغه مقالی دهیواد په خپرونو:ننګرهار،اصلاح،انیس،هیواد او پامیر په ورځپاڼو،ننګرهار کابل ،عرفان،پیام حق او قضأ مجلو،د افغانستان او مصر په راډیو ګانی،په مذهبی،فلسفی،اجتماعی،سیاسی او تاریخی موضوع ګانو باندی خپری شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دوکتور مولوی سعید افغانی کتابونه او رسالی په دی ډول دی:

1- شیخ الا سلام عبدالله الا نصاری الهر وی-مبادئه و ارائه الکلامیة والروحیة) په عربی ژبه – القاهره-د ۱۹۶۸م چاپ.
2- نابغه الشرق،سید جمال الدین الافغانی،په عربی ژبه،القاهره،د ۱۹۶۷م چاپ.
3- افغانستان،تاریخاً و حضارتاً،په عربی ژبه،نا چاپ.خطی نسخه یی شته
4- العقیدة الا سلامیة و آراء المعتز لة و الاشاعرة و الماتریدیة م اختلافاتهم،دا په عربی ژبه د لیکوال یو کنفرانس دی چه یی د ۱۹۶۵م کال په اپریل،دالاز هرپه پوهنتون کښی ایراد کړی دی.د نوموړی پوهنتون استاد دوکتور محمد گلاب د هغه ددرجی مونډلو داستحقاق تصدیق کړی دی.خطی نسخه یی موجوده ده.
5- د شرق نابغه ، سید جمال الدین افغانی،په پښتو ژبه،کابل ۱۳۵۵ ه ش چاپ.
6- الاشارات والتنبیهات- دا بن سینا تالیف او د دوکتور سعید افغانی پښتو ترجمه- کابل- د افغانستان دموکراتیک جمهوریت دعلومو اکادمی- د ۱۳۵۹ ه ش چاپ.
7- محمد ص،رهبر بزرگ اسلام،په دری ژبه-کابل- د۱۳۶۳ ه ش دقوس چاپ.
8- پلاروطنه ملی جبهه او یادلته دټولنیزو ستونزو دحل لار،په پښتو ژبه-د کابل چاپ.
9- خطر جنګ هستوی،په دری ژبه-کابل-د ۱۳۶۲ د حوت چاپ.
10- و الصلح خیر،صلح و آرامش از دید گاه اسلام،په دری ژبه-کابل-د ۱۳۶۲ د حوت چاپ.
11- زندگانی مسلمانان د راتحاد شوروی،په دری ژبه کابل د ۱۳۶۳ د حوت چاپ.دا کتاب دلیکوال تر مړینی څو ورځی وروسته له چاپه ووت
12- کلتور اسلامی از نکاه علم و فلسفه-په دری ژبه –طبع گستتنر-پولی تخنیک کابل- ۱۳۴۹ ه ش.
13- تفسیر-دیوولسم ټولګی لپاره-په پښتو ژبه-دښوونی او روزنی د وزارت له خوا-مکرر چاپ.
14- تفسیر-د یوولسم ټولګی لپاره-په دری ژبه-دښوونی او روزنی د وزارت له خوا-مکرر چاپ.
15- عقاید-درسی کتاب.
16- منطق- درسی کتاب.
17- اساسات اسلام به نګاه علم و فلسفه-د عالی دارالمعلمین د ۱۳ م ټولګی لپاره- د گستتنر چاپ.
18- اساسات اسلام به نګاه علم و فلسفه-د عالی دارالمعلمین د ۱۴ م ټولګی لپاره- د گستتنر چاپ.
19- ادب القاضی-په دری ژبه-ناچاپ.ټایپ شوی نسخه یی موجوده ده.
20- امراض روحی و معالجه آن-په دری ژبه-ناچاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

21- خلاصه اندرز ها و نصایح سودمند برای ستاژیران قضایی-په دری ژبه- د ۱۳۵۴ ه ش لیکنه-خطی.
22- الاخلاق والتصوف-په عربی ژبه-د ۱۹۶۵م کال تالیف-خطی.
23- د تحول او تطور په باره کښی-پښتو ژبه-خطی.
24- دنجات او کامیابی لیار-په پښتو ژبه-خطی.
25- در باره ادیان و دین اسلام-په دری ژبه-خطیږ
26- اخلاق و فلسفه-په دری ژبه-خطی.
27- ارکان،شرایط و احکام نکاح-په دری ژبه-خطی.
28- حاکمیت قانون در جمهوریت دموکراتیک افغانستان-په دری ژبه-کنفرانس-ناچاپ.
29- طبیب بگو مرضم چه و چاره چیست؟په دری ژبه-ناچاپ.
30- سفر اتحاد شوروی-به دری ژبه-ناچاپ د ۱۹۸۲م لیکنه-ټایپ شوی نسخه یی موجوده ده.
31- تعبیر- په پښتو ژبه – ناچاپ د ۱۳۵۶ ه ش لیکنه-خطی د لیکوال په لیک.
32- انقلابی افکارو هڅی او هیلی-په پښتو ژبه-د۱۳۵۷ ه ش لیکنه- خطی د لیکوال په لیک.
33- زما ژوند-په پښتو ژبه-ناچاپ-د ۱۳۵۶ه ش لیکنه د لیکوال بیوګرافی او خاطری دده پ لیک.

## وفات

د۱۳۶۳ دحوت په او ومه ، د ۱۹۸۵ دفبروری ۲۵ مه ، د افغانستان دموکراتیک جمهوریت دطبی علو مو اکادمی په روغتون کښی ، د دوکتور مولوی محمد سعید سعید افغانی مهربان ، خواخوږی او تپاندزړه ودرید . په سبایی په کابل کښی ،دجابر انصار علیه الرحمه د مزار ترڅنګ ،دشهدای صالحین په هدیره کښی په درناوی خاوروته وسپارل شو.
دنوموړی د جنازی په مراسمو کښی حزبی اودولتی شخصیتو نو ،دکابل دښار علما،روحانیانو ،لیکوالو ،استادانو ،شاګردانو ،داسلامی شئونو ،دعلماو او روحانیانو دشورا، دعلو مو د اکادمی اودلیکوالو د اتحادیی غړو او په سلګو نو دوستانو او علاقه مندانو برخه اخستی وه .
دده دمړینی خبر حزبی او دولتی لوړو مقامونو له خوا په تاسف او خواشینی سره و اوریدل شو او ستره ضایعه وبلل شوه .
زمونږ دهیواد او دوستوهیواد ونو مذهبی او روحانی ټولنو ،دپښتو ،دری او عربی ژبو د لیکوال ،مولف او خطیب ،دینی عالم او اجتماعی شخصیت په مړینه د خواشینی او تسلیت پیغامونه استولی دی .
دهیواد لیکوالو او شاعر انو هم په دی ویر کښی برخه اخستی ده . دلته به ددی ډول لیکنو او پیغامونو یو څو بیلګی وړاندی کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شخصیت بزرگ عالم شهیر

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت داسلامی شؤنو نشراتی اورگان ،دپیام حق ،مجلی د ( ضایعه یک شخصیت بزرگ روحانی وعالم شهیرکشور )ترعنوان لاندی د ۱۳۶۳ ه ش په خپله ۱۱- ۱۲ مه گڼه کښی ،د دوکتور سعید افغانی د مړینی په مناسبت مفصل راپور خپورکړی دی.په هغه کښی دنوموړی بیوگرافی ،فوتو ،دکتابونوفهرست ،دجنازی مراسم تشریح شوی او دباندینیوهیواد ونودسفار تونواو دمذهبی اوعلمی تولنو د پیغامونوځینی برخی خپری شوی دی ،**په دی لیکنه کښی راغی** :

«...اوصاف ستوده ،خدمات ارزنده ،حوصله مندی استواری وسایر سجایای محموده اش سبب شد نه تنها اولاد وفامیل نجیبش درین ضایعه برعزا وماتم بنشینند بلکه این مصیبت قلوب عموم مردم شریف افغانستان راجریحه دار ساخته و همگی بروح پرفتوح این بزرگ مرد و دانشمند مرحوم روحانی ریاست عمومی شئون اسلامی به خدمات شایسته مرحوم دوکتورصاحب که به مردم و وطن انجام داده ارج وقدر گذاشته ومرگ مرحوم راضایعه بزرگ وجبران ناپذیر تلقی می نماید .

همچنان جهت احترام بروحانیت این شخصیت بزرگ تلگرام های متعدد ازکشور ها وسازمان های اسلامی وبشریت صلح دوست جهان معنونی ریاست عمومی شئون اسلامی وشورای عالی علما وروحانیون ج.د.ا.مواصلت ورزیده که فشرده پیام ها و تلگرام های اداره عمومی هیئت منصفه بین المللی درامور مربوط به اعطاءجایزه مسمی بنام (ابن سینا ) سفارت کبرای اتحاد شوروی ،سفارت کبرای جمهوریت اشتراکیه ملت عربی لیبیا ،سفارت کبرای هندوستان ،محترم مفتی شمس الدین باباخانوف رئیس جمعیت دینی مسلمانان آسیای میانه وقزاقستان ،محترم حاجی الله شکور پاشازاده شیخ الاسلام رئیس اداره دینی ماورای قفقاز ،رئیس شورای امور دینی مربوط به شورای وزیران اتحاد شوروی ،رئیس مرکز روحانیون مسلمانان اروپایی اتحاد شوروی وسایبریا رابالترتیب به نشر میر سانیم »

وروسته بیادغه تلگرامونه او پیغامونه په نوموړی مجله کښی چاپ شوی دی .

## مبارزه صلح وزنده گی

دافغانستان دخلک دموکراتیک حزب نشراتی اورگان د«حقیقت انقلاب ثور » ورځپاڼی د ۱۳۶۳ دحوت په لسمه ،د ( بزرگ مردی که برای صلح وزندگی مبارزه کرد ) ترعنوان د دوکتور سعید افغانی دمړینی په ارتباط یوه درنه مقاله خپره کړه چه په هغی کښی دنوموړی په ژوندانه فعالیتونو ،نظریو اوکړو وړو باندی رڼااچول شوی ده .دامقاله داسی پیلیږی «محمد سعید افغانی این شخصیت ملی واجتماعی ،نویسنده شناخته شده ،محقق پرتلاش ومبارز راه صلح و زندگی رانه تنها مردم زحمتکش افغانستان به خوبی می شناسند ،بلکه جهانیان نیز بانام وکارنامه های سترگ او در راه صلح و امنیت جهانی اشنایی دارند »

## په دی مقاله کښی لولو:

«... دوکتور سعید افغانی از جنبشهای دموکراتیک استادان ومحصلان پوهنتون کابل درآغاز دهه پنجم قرن حاضر به گرامی استقبال نموده و به همین دلیل دوبار به حیث نماینده استادان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولی تخنیک کابل به عضویت اتحاد استادان پوهنتون کابل انتخاب ویکبار سمت معاونیت شورای عالی اتحادیه رابه دست آورده وفعالانه از حقوق صنفی ودموکراتیک استادان ومحصلان دفاع نمود.......»
وروسته دمقالی لیکوال د دوکتور سعید افغانی هغه دقدر وړ فعالیتو نه یادوی ، چه نوموړی د پوهنتون په دوره کښی دهغه وخت دمرتجعانو دسیسو دافشاءکولو او شنډولو لپاره ترسره کړی دی .

## د پرنسیب خاوند

مولوی محمد هاشم کامه وال د (تذکری مختصر در باره شخصیت موحوم الحاج دوکتور محمد سعید افغانی ( رح)ترعنوان لاندی په ۱۳۶۴ ه ش کال کښی لویه خطا به لیکلی ده چه په هغی کښی د نوموړی پر ژوندانه،کارونو او اخلاقو باندی رڼا اچول شوی ده.ددی وینا خطی متن مونږ سره شته اوله هغه څخه د دوکتور مولوی یوه ربښتیانی کیسه رانقلوو او گورو چه نو موړی څومره با پرنسیپه سړی و؟اوله دی لیاری یی څومره تاوان گاللی دی؟مولوی کامه وال صاحب لیکی:
«...بنده به حیث رئیس دیوان حقوق عامه در محکمه عالی استیناف مرکز و در عین حال رئیس دیوان محکمه مرافعه مماثل تجارتی و استیناف مماثل جز ایی نیز بودم.روزی به معیت محترم ....رئیس عمومی استیناف مرکز به منظور تقدیم استهداء در یک موضوع حقوق عامه به شورای عالی قضاء رفته بودم.شورای عالی دایر شد.ریاست آنرا محترم دوکتور....وزیرعدلیه تنظیم میکرد اراکین شورای عالی حضور بهم رسانیده بودند.بعضی از روساء دوایر قضاء نیز حضور داشتند.البته به اجازه وزیر صاحب می آمدند.قبل از آنکه یشنهاد یه موضوع حقوق عامه را تقدیم مجلس کنیم،روی یک موضوع دیگر بحث آغاز گردید.رئیس ریاست محکمه ابتدائیه مامورین....استهداء کرده بود که یک نفر تحولایلدار مستخدم هوتل کابل متهم بودند که چند بوتل الکول دار را تلف نمود و څارنوال در دعوی خویش از و مطالبه جبران خساره الکول را نیز کرده و الکول نظر به مقررات شرعی و فقهی،قیمت ندارد.تملیک و تملک(و خرید و فروش-نویسنده) آن ممنوع است.
وزیر صاحب تمام مجلدات قانون مدنی را که تازه نافذ شده بوه مطالعه کرد ولی از ملاحظه آن حل مطلب کرده نه شد.یک نفر اعضای مجلس که عضو اصلی شورای عالی نه بود گفت:مال دولت تلف شده متهم به جبران خساره محکوم شده-دوکتور صاحب سعید افغانی در برابر او گفت که حکم شریعت و مذهب را برای خساره دولت متروک العمل کرده نه می توانیم.....»
مولوی کامه وال صاحب ددی مباحثی جریان لیکلی او دی حدته رسیدلی دی چه د عدلیی د وزیر د نظریی په خلاف دوکتور سعید افغانی ټینګار وکړ او قوی شرعی استدلال یی وړاندی کړ.دوزیر نظریه ماته شوه.وزیر په قارشو اویوځل یی بیا ورته وویل:(بحث را خاتمه بدهید شما گذاره نه می کنید.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

«...اما نتیجه این مباحثه در ذهن وزیر صاحب تاثیر به جا گذاشت.موقعیکه محمد دا و د لویه جرگه را دایر و قانون اساسی مطابق فکر شخصی خود بمیان آورد،در مباحثات مقدماتی آن نیز دوکتور صاحب تنقیدات معقول میکرد.این تاثیرو کدورت طبعیت وزیر صاحب.... ظاهر شد که....دوکتور صاحب را به حیث عضو شورای عالی قضاء بار دیگر نه پذیرند .... .»

په دی توکه ثابته شوه،چه په پرنسیت باندی درېدل او په قضایی چاروکی د قانون او شریعت پیروی کول او په هغه ټینګار ددی سبب شو چه دوکتور سعید افغانی،داستبداد په دوره کښی دقضاء له منصبه و غورزی او په کور کښی اوزګار اوبی سر نو شته کښینی.

## دوفات دتاریخ قطعه

د دری او اوزبیکی ژبو معاصر شاعر او لیکوال،محترم محمد امین متین «اندخویی» د دوکتور سعید افغانی د وفات د تاریخ قطعه لیکلی ده چه دمزار په ډبره یی کنیدل شوی ده او دلته یی وړاند کوو:

**«از رحلت دوکتور سعید فر سودیم**
**سوز د گری به داغ دل افزودیم**
**تاریخ وفات او سرسنگ مزارسیزده صدوشصت سه رقم بنمودیم.۱۳۶۳ه ش »**

## دوفات دتاریخ بله قطعه

دغه قطعه ما لیکلی ده او د دوکتور سعید افغانی د شناختی د مرمرو په ډبره کنیدل شوی ده:

**په لوستلو،لوستلواو لیکلو**
**د پوهنی د ډیوی لاندی کار و نه**
**فضیلت او شرا فته سره تیر شول**

په(دوکتور سعید افغانی) دری شپیته کلونه

(دوکتور سعید افغانی) دابجد په حساب (۱۹۲۲) کیږی.دا دنوموړی د تولد میلادی کال دی.ده(دری شپیته کلونه) ژوند تیر کړی دی چه داسلام ۵ پیغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د ژوندانه له کلونو سره برابر دی.چه پر (۱۹۲۲م) باندی (۶۳) واچوو بیانو (۱۹۸۵) تری جوړ یږی او دایی دوفات میلادی کال دی.

## دغم شدید احساس

له هغو پیغامونو څخه چه ددوستوهیواد ونوله سفار تونو او فرهنگی موسسونه،د دوکتور سعید افغانی دمړینی دغمجنی پیښی لامه را رسیدلی،یوازی دیوپیغام متن دنمونی په ډول راوړو:

## شورای عالی علمأ افغانستان

با احساس شدیم غم،خبر تاثر انگیز وفات دانشمندان معروف دولت جمهوری دموکراتیک افغانستان،سیاست مدار مسلمان و سهیر و برنده جایز ابوعلی سینا رئیس شورای عالی علمای افغانستان،ډاکتر سعید افغانی را شنیدیم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مردم مسلمان ما از داکتر سعید افغانی به حیث یک دوست صدیق مسلمانان شوروی که بخاطر محکم ساختن روابط دوستی میان افغانستان و اتحاد شوروی خود را وقف نموده بود پیوسته یاد می نمایند.
اینک از طرف خود و به نمایندگی از مسلمانان شوروی،تأثیرات عمیق خویش را به شورای عالی علماء و به باز ماندگان مرحو می به مناسبت فقدان این مرد بزرگ تقدیم می دارم.خداوند روح مرحومی راشاد بدارد.
مفتی شمس الدین بابا خان رئیس جمعیت دینی مسلمانان آسیای میانه و قزاقستان»

## لنډیز

په دوکتور سعید افغانی باندی ،دهغه دژوندانه کلونه ،په لوستلو ،تدریس کولو ، لیکلو، تالیف،موعظواوخطابوتیرشو ،هغه به دسولی ،امنیت ،تفاهم ،دوستی ،ورورری ،برابری ، اجتماعی عدالت اوانسانی کرامت لپاره په دم ،قدم او قلم مبارزه کوله .دی پسی وچه دهیواد ملایان ،دعلم طالبان اونور خلک دنوی ژوندانه په مترقی لارو چارو پوه اومنور ځوانان اوروښا نفکره زلمیان ددین له مبادیو سره آشناشی او دملی فرهنګ اودینی اخلاقورعایت وکړی .
هغه یوملی ،مترقی ،مذهبی شخصیت وچه تل دخلکو او اولس دضروری غوښتنو دملاتړ په لیکو کښی دریدلی دی .
په زلمیتوب کښی یی دوینښ زلمیانو له هدفونو څخه روحیه اخستی او دهغو ننګه یی کړی ده.په سفر کښی یی دخپل هیواد تاریخی او فرهنګی ویاړنی نوروواولسونو ته معرفی کړی دی .دژوندانه دپو خوالی په عمر یی دهیواد دخلکو دملی دموکراتیک غور زنګ ملاتړ کړی دی او ددین دحقیقتونو دڅرګندولوپه ذریعه یی هغه ارتجاعی دسیسی افشاءاو شنډی کړی دی.
دسراسری سولی او امنیت اوملی روغی جوړی د تا مین لپاره یی هڅه کوله.
په هیواد اونړی یی سوله اوتفاهم غوښت او کار یی ورته کاوه .... خدای دی یی وبخښی

## لیکوال په لیکنوکښی :

په دی لنډه بیو ګرافی کښی ثابته شوه چه دوکتور سعید افغانی دپښتو ،دری او عربی ژبو لیکوال او محقق وه .دهغه دلیکنو بیلګی دهغه په لس ها وولیکلی کتابونه او رسالی او په سلها ومقالی دی .
داسمه خبره ده چه دلیکوال دپیژندنی اصلی هنداره دهغه خپلی لیکنی دی .دلته مونږ د دی لیکوال زیاتی لیکنی نه شوو راوړ لی .یوازی دهغه دلیکوالی په دریوژبو .دری لنډه لیکنی د « مشت نمونه خروار» په ډول ګرانو لوستو نکو ته وړاندی ددوکتور سعید افغانی یوه لیکنه ده چه دانتقادی نثر بنه لری .دسرداری استبدادی رژیم څیره څرګندوی .دانثر دثور دانقلاب نه اویا ورځی دمخه د ۱۳۵۶ د دلو په ۲۸ مه نیټه لیکل شوی دی او تراوسه لاچاپ شوی نه دی.وی لولیء.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## داڅه حال دی ؟

داپوښتنه دچاڅخه وکړم؟ څوک به ددی پو ښتنی واقعی او حقیقی ځواب ووایی ؟ ویره ددی پوښتنی ځواب نه شی ویلی .سیاست خو انحرافی ځواب وایی .ارتجاع دخلکو دوکه کول غواړی .اپرچونستان دخپلو ناوړ واستفاده دپاره دهیڅ کومی مبدی خیال نه ساتی .دچوکی نوکر نه شی کولی چه دملی دردونو دلیری کولو دپاره خدمت وکړی .ایجنټ خودوطن ټول موجودیت تباه کوی .خارجی جاسوسان اوشبکی نورهم اوضاع ورانول غواړی .ملاکان وسرمایه داران په خپلو نیشو کښی مست دی . دجاهلو اولیو نو څخه هیله کول خطادی استعمار او استغلال په همدی خوښ دی چه خلک په خپل دام کښی ګیرکړی .دروشنفکری اطلاق او نوم مغشوش شوی ښکاری اویو څوکاذب شخصیتو نه دقدرت واګی په لاس کښی لری .دملت پرستی دعوی له هرچاڅخه زیاتی ملی خاینان کوی او واقعی وطن او ملت غوښتو نکی یو دبل پسی په تورونو تورن کیږی چه په تدریجی رنځ او مرګ رنځور اومری .نو په داسی ناوړه شرایطو کښی به څوک ددی پوښتنی چه : داڅه حال دی ؟ ربښتینی ځواب وویلی شی.که څوک ووایی چه کار نشته اوپه ملیو نو وطنوال خپل ګران وطن په ډیر بدحال پریږ دی اوپه خارجی وطنو کښی اکثر دچټلیود پاکولو مزدوری او دشرم او عار ژوند کوی نو په مقابل کښی ورته ویل کیږی چه دتا په چاڅه ؟ اوکه ته دخلکو افکار پاروی ؟ که ووایی : دادومره خارجی مرستی څه شوی ؟وایی : ستا په سیاست کښی کار نشته دی او نه چاد خیرات چیری حساب غوښتی دی .په هغه راغلی او په هوغه لاړی .اوس لادا دخارجی ډبلو ملیستیا و بوج دملت دبودجی په سردی .ماوویل : دملت بودجه یعنی څه ؟ ده وویل داچه یوازی دملت په نوم یادیږی او ملت پکښی دنظر یی اوهیڅ ډول تصرف کولو حق نه لری او یوازی داستبدادی قدرت دبقاء دپاره خدمت کوی .
که ووایی : دلته کار دکار خلکو ته نه سپارل کیږی.
وایی : شخصی عقده لری اوکه نه احمد او محمود خوکه لیسانسه نه دی شپږم پاس او دولسم پاس خودی اوله بلی خوا زمونږ سویه د ډاکټر دنظریوتحمل نه شی کولی .
که ووایی: دوطن اقتصادی وضع په داډول ښه کیدی نه شی وایی :انتظار ویستل په کاردی .اوبی شرطه قیده او تحلیل څخه تسلیمیدو ته ضرورت دی .اوکه نه دچنګیز اوهلا کو له لاسه به یو پنا شی . هو دی دلته دشلم قرن چنګیز او هلاکو دی .که ووایی: دا دقدرت خاوند خو په ښکاره ډول دخپل قدرت څخه ناوړه استفادی کوی.
وایی : ته ددی حق نه لری چه په لویانو باندی اعتراض وکړی.اطاعت اطاعت .حتی ړوند او کوڼ اطاعت لاس په سینه او سرپه رکوع .اوکه نه دا ډبلی اوستاسر .
که ووایی: دخلکو د دعو وګراف جګ شوی دی . ظلمونه او تجاوز .مرګ .ژوبله ، چور او دهشت له اندازی څخه زیات دی نو وایی: نه خیر داسی نه ده .اویو څه داسی ځوابونه به درته وتراشی چه په رښا ورځ به لمر په د وو ګوتو پټ کړی او په زړه کښی به دننه دیو داسی نظریی دښکاره کوونکو او اصلاح غوښتو نکو دمحوه کیدو په دسیسو غورکوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ووایی: دلته له یوی خواد تعلیم او تربیی په نوم خلک غولول کیږی اوله بلی خوا دواقعی پوهی اوپوهانو په ضد مجادله روانه ده .
وایی: داسی راز افشاءکول خطرلری .
که ووایی : تشخیص،انتصاب ،لیاربنودنه اوکنترول خطا دی .ملی اداره اوتنظیم نشته ،بنه اوبد،دوست او دښمن مغشوش شوی دی .
وایی: ستاپه دی کښی حق نشته .خیر خیریت دی .
که ووایی: داقوانین خو دملت دطبیعی رموزوسره موافقت نه لری .ځنګلی ښه یی زیاته ، دوحشت ،نا معقولیت او د ړوند استبداد خواص پکښی ډیر دی .
وایی: څه موچه خوښه ده هغه کوو اوتر څوچه مودا کوتک او ډنډه په لاس کښی ده چلو وبه یی.
که وایی : پوښتنه مړه ده .
وایی: ښه ده چه مړه ده اوکه نه مونږ به یی کارته نه ووپریښی.یعنی هغه کارته چه دوی یی دعمومی تباهی لپاره کول غواړی .ښه نو په داسی شرایطو کښی چاره څه ده ؟ او واقعی دوطن او وطنوالو دژونددښه کیدو عاشقان څه وکړی ؟ چیرته لاړشی دچا څخه مرسته وغواړی ؟ څومره انتظار وباسی ؟
یودارن غږ کړ :چوپ چوپ . بس په چوپه خوله دعمومی تباهی اودمرګ انتظار دی .
اویادکوم غیبی ملی او عاطفوی قدرت په وسیلی مثبت تحول اوبدلون ؟
ماوویل : نه نه مه ډاریږی  زه به په پوره جرعت خپل مسئولیت پورته کوم او وایم :هله خپل تاریخی مسئولیت ته پام وکړی او دژوند درسالت په خوامتوجه شی .دهر پوه وطنوال فریضه ده چه نور نوپه یوازی بی عمله مترقی نومونو دتباه کوونکو عناصرو په دو کوونه غولیږی او ددی مخربی وضعی دبدلون لپاره په عمومی عملی اقدام او قیام پیل وکړی
۲۸/۱۱/۱۳۵۶ خیر خانه مینه - کابل – افغانستان

**د دوکتور سعید افغانی دلیکنی بله بیلګه ،دنړ یوالی سولی په باره کښی ،دده له کتابه (خطر جنګ هستوی ) نه را اخلو .**

داکتاب دلیکوال د وفات نه یو کال دمخه ،په ۱۳۶۴ ه ش کال کښی چاپ شوی دی .

## ندأ صلح وآرامش ضرورت مبرم عصر ماست

باید گفت که همه مردم خواهان صلح وآرامش اند.مگر اینکه چطور می توانند که صلح وآرامش به میان آید ؟ این امر ایجاب دقت و تجسس رامی نماید .
به نظر من این امر موکول به رجال آگاه ،دانشمند وکلان شوند گان اقوام وقبایل جهان واین سرزمین باستانی است ،که حسب رسوم وعنعنات خویش زمینه رامساعد سازند که خاص برای سعادت جهان ،افغانستان وحضرت انسان بدون درنظر داشت اغراض شخصی توسط حسن تفاهم ،تعقل وتدبیرنیک ومنطقی واستدلال حقیقی صلح و آرامش به میان آید .
ضرورت هر عصر وزمان ایجاب میکند که همه اقشار و انسانهای آگاه درتدارک پیوندرشته های قطع شده ودر بمیان آوردن فرصت مساعد برای تحقق صلح و آرامش گردند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

من می گویم اگر درعصر حاضر فرضا بودا، زرتشت وحضرات رسل وانبیاءعظام علیهم السلام ورهبران صالح تاریخ زنده می بودند . همه آنها از همه اولتر برای صلح وآرامش کار وخدمت میکردند .
بنا به پیروان همه ادیان وصاحبان همه مفکوره ها فرض ولازم است که به سویه مناطق وممالک خویش وبه سویه جهان درامر صلح وآرامش مساعی مقدور خویش را به خرج دهند.
من تصور می کنم که اگر جهان فرصت موجوده برای صلح راز دست دهد ندامت و واویلا درصورت بروز جنگ ذرری سودی نه خواهد داشت .
من باور دارم که این ناآرامی های موجوده جهان روز به روز کسب وخامت داشته وموجبات بروز جنگ ذروی را آماده می سازد . بنا وظیفه رجال صالح است که یک دقیقه وثانیه هم فرصت راز دست نه دهند بلکه هر چه سریعتر زمینه و وسایل حسن تفاهم رابه کارانداخته ودر راه صلح وآرامش کار وخدمت خویش راتشدید بخشند .
قران کریم ، این کتاب مقدس اسلام به امر صلح درصیغه های متنوع صراحتا وکنایتا تصریح واشاره کرده که اسناد وآیات متبرکه در زمینه دفاع از صلح جویی اسلام بهترین هدایت کننده بندگان صالح خداوند متعال به مسلمانان سراسر جهان من جمله مسلمانان کشور انقلابی وقهرمان ما افغانستان عزیز است.
و کفایت میکند که از قران کریم تنهااین راگوییم «والصلح خیر » ترجمه : صلح خیر است وخیر معنای جامع وکامل رادربردارد که باید از آن به نفع افغانستان عزیز وجهان کارگرفته شود . **ومن الله التوفیق**

**په دی برخه کښی ،د دوکتور سعید افغانی دیوی پراخی علمی تحقیقی لیکنی نتیجه وړاندی کوو.**

**دا دنوموړی داثر « شیخ الاسلام عبدالله الانصار ی الهروی » دکتاب خاتمه ده چه په مصر کښی دمولف داوسیدو په وخت لیکل شوی او په هماغه موده په ۱۹۶۸ م کال په قاهره کښی چاپ شوی دی :**

«النتیجة الا خیرة عن کل ماکتبت فی حق الشیخ الاسلام عبدالله نصاری»
یثبت من کل ما ذکرت فیما یتعلق« بشیخ الاسلام عبدالله الا نصار» وینتج عنه انه کانت له قوة الدرایة والذ کاء و قوة الحافظة والشعور الطبیعی و الغریزی وقوة الاستعداد والمتانة والاستقامة،فببر که صحبة الصالحین و العلماء والا تقیاء استطاع ان یحصل علی علم الحال و القال، و بکثرة المجا هدة و المقارنة و صل الی الحق والیقین فوهب حیاتة فی سبیل الله-جل شانه، وانه لایخشی فی هذا الطریق لومة لایم ، ولایو ثر علی مایریده و یهمه ماقیل و ما یقال نحمل المصائب و المتاعب، والمشکلات من الطرد الحرمان و ما استطاعت الدسایس و المؤامرات، ولا المصائب و المتاعب، و لاالتحولات والتطورات السیاسیة و المذ هبته فی ان تحول عمایهدفه، فدام فی عبادة الله- تعالی- وحبة و استمر تدریسه و تلقینه الی آخر لحظة من حیاته فی غایة الوجد و النشاط.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الاشک انه عرف طریق الحق وانه کان مصمماً طوال حیاته ان لایخرج من دایرة الحق والیقین و انه بفضل الله- تعالی- عرف انه کیف یمکنه ان یفهم الناس و یفیدهم احسن الافادة و بای طریق یستطیع ان یحول افکار الناس الی الحق و الیقین،فیتکلم مع مریدیه و تلامیذه واصدقائه علی قدر عقو لهم.
نعم انه کان عارفاً للحق، فعرف الامراض الا جتماعیة والروحیة حق المعرفة و ثبت عنده ان احسن المعالجة لما عرض علی جسم الا جتماع من المخاوف و المخاطر و المها لک هی تزکیة النفوس من الاوهام و لانحر افات،و تقویتها با تباع ما جاء فی القران الکریم و ما جاء فی احادیث الرسول صلی الله علیه و سلم.
ولماو صلت درجة کفاحه الی الذروة اهدی له - کماذکرنا- خلیفة المسلمین«القایم بامر الله فی سنة (۴۶۲ه) الخلعة الرایعة، ثم لقبه خلیفة المسلمین « المقتدی» رسماً فی سنة (۴۷۴ه)الشیخ الاسلام و الشیخ الشیوخ و الحکماء اهدی له و لابنه « عبدالهادی» الخلعتین الموقرتین.
الحق ،انه کان لایقا بکل هذا الاجلال ،لانه لایغره اتجاه الناس الیه، ولااعطاء الالقاب و النیاشین له ، بل مع ذلک کان لیلا و نهارا یفکر و یعبد و یلقن و یحب الله-تعالی-ویخدم خلایقه و یحب الصرا ط القویم و یحاول ان رسالة حیاته علی اکمل وجه.
قد ثبت ان الصوفیین الذین جاء و ابعد«عبدالله الانصاری» قد استفادو اکثیراً فی تصوفهم من تصوفه و اخذوا نبزا کثیراً من آرائه و تلقیناته، کماالف کثیر من المولفین العظما مثل العارف بالله «محمود ابن الشیخ الشیوخ العارفین حسن ابن محمد الفرکاوی القادری» والشیخ الامام «سدید الدین ابی محمد عبدا لمعطی ابن الثناء محمود بن عبدا لمعطی اللخمی الاسکندری» ،«و ابن قیم الجوزیة» و غیر هم شروحاً علی تالیفاتة و نشرت صور مخطوطات آثاره فی کثیر من المکتبات و طبعت و نشرت کتبه و رسایله فی کل الاقطار الاسلامیة، کما توجد مخطوطات آثاره و مطبوعات کتبه ورسائله فی اکثر البلاد خصوصاً فی «افغانستان» و « پاکستان» و « ایران» و« الهند» و « روسیه » و «مصر» «دمشق » «بغداد » «ترکیه » و«لندن » و«فرنسا» وفی بعضی مکتبات « امریکا » و « آلمانیا» . و جدیر بالذکر انه یذ کراسم «شیخ الاسلام عبدالله الانصاری» الان ایضاً فی بلاد « افغانستان» و « ایران » و« پاکستان» و « الهند» بکمال الاحترام عند عامة الناس ، و یفتخر المتفقون و یتلذذالصالحون بذکر مناجاته و نصایحه و تلقیناته فی المجالس العامة وا لخاصة.
هذا هو « شیخ الاسلام» و الحبر الامام ، شیخ الشیوخ و الحکماء « ابو اسماعیل عبدالله الا نصاری الهروی » رحمه الله- تعالی- رحمة واسعة و ادخله فی جنات النعیم مع اصد قائه و محبیه و یهد ینالله- القوی- لمایحبه و یرضی و ینجحنا نجاحا فائقاً فی الدینا و لاخرة بمنه و کرمه ، آمین یارب العالمین.

## يادونه:

دموحوم دوکتور مولوی محمد سعید سعید افغانی،دبیو ګرافی او دژوندانه او لیکنو په باره کښی،کولی شیء چه لاندینیو لیکنو ته هم مراجعه و کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خیرندوی عبدالله بختانی-دوکتور مولوی،کابل مجله-د ۱۳۴۹ ه ش کال جدی-ر ۶۱۴ مه گنه.
- ضایعه یک شخصیت بزرگ روحانی و عالم شهیر کشور،پیام حق ،مجله-د ۱۳۶۳ ه ش کال ۱۱- ۱۲ مه گنه .
- سعید افغانی : بزرگ مردی که برای صلح و زندگی مبارزه کرد- روزنامه حقیقت انقلاب ثور ، ۱۰ حوت ۱۳۶۳- سال پنجم- شماره (۱۵۱) شماره مسلسل (۱۰۶۳).
- بولیتن اخباری نمایندگی آژانس مطبوعاتی نو وستی در کابل- مورخ ۱۲، ۷، ۱۳۶۱ ه ش شماره (۱۷۹)
- خیرندوی عبدالله بختانی خدمتګار- دسولی او تفاهم د لیاری مبارزه- پیغام حق ،مجله- د ۱۳۶۳ ه ش ۱۲ مه گنه.

## درسالی نوم:

**دسولی او تفاهم دلیاری مبلغ دوکتور سعید افغانی.**

لیکوال: پرفیسور عبدالله بختانی خدمتګار.

دچاپ نیټه:د ۱۹۸۷د فبروری ۲۵مه.

دچاپ ځای:کابل- افغانستان

اړیکی :saidafghani@hotmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**